# د تورسم خان ژوند او شاعري

## The life and poetry of Torsum Khan

Dr.Muhammad Aftsab*

Abstract:

Torsum Khan is popularly known as Torsum Baba. He was a resident of Dosehra village in Charsadda District. He passed away on 15th Ramadan 1364 A.H at a ripe old age. He is also buried in Dosehra. Torsum Khan holds a prominent position among the popular Pashto poets who have reformed their Pashtun society through their poetry and have pointed out the shortcomings of this society. He has written many Charbeta, Ghazals, Badala and national poems. His collection of poetry is called "Ganj Yakut Nayab", which he completed in 1936 and is available at the Pashto Academy, Peshawar University under serial number Q-119. It has a total of 352 pages, but he also wrote that this is the fifth volume of his poetry collection. In one of the collections, he has written poems by Zarif Khan and Fateh Khan. Other poetry collections of Torsum Khan, which he compiled in the form of pen divans in 1938, 1942, and 1943, are also available in the Pashto Academy under serial number Q-120. Torsum Khan poems are very simple, sweet, and effective. Most of his words are full of advice and advice, and he wants the Pashtuns to correct their wrong customs and bad habits.

**Keywords:** Torsum Khan Khattak, Life, Poetry and Contribution

تورسم خان په مشهور ډول د تورسم بابا په نوم پېژندل کېږي. هغه د چارسدې ضلع د دوه سهرو کلي اوسېدونکی وو. هغه د ۱۳۶۴ هجري کال د روژې په ۱۵مه نېټه په پوخ

* Accounts Officer Pakistan Institute of Community Ophthalmology Hayatabad Medical Complex Peshawar

عمر کښې وفات شو دي او هم په دوه سهرو کښې ښخ دي. تورسم بابا د هغو مشهورو پښتو شاعرانو په منځ کښې يو مهم مقام لري چې د خپلې شاعرۍ له لارې ئې د پښتنې ټولنې اصلاح کړې او د دې ټولنې نيمګړتيا په ګوته کړې دي. هغه ډېرې چاربيتې، غزلې، بدلې او ملي شعرونه ليکلي دي. د هغه د شعرونو آثار "ګنج ياقوت ناياب" نومېږي، چې هغه په ۱۹۳۲ کال کښې بشپړه کړه او د پېښور پوهنتون په پښتو اکاډمۍ کښې د Q-119 نمبر لاندې شتون لري. دا ټولټال ۳۵۲ مخونه لري، مګر هغه دا هم ليکلي چې دا د هغه د شعرونو د ټولګې پنځم ټوک دے. په يوه نسخه کښې ئې د ظريف خان او فتح خان شعرونه ليکلي دي. د تورسم خان نور شعري آثار، چې هغه په ۱۹۳۸، ۱۹۴۲ او ۱۹۴۳ کلونو کښې ليکلي دي، قلمي نسخو ئې هم په پښتو اکاډيمۍ کښې د Q-120 په نمبر لاندې شتون لري. د تورسم خان شعرونه خوږه او ساده دي. د هغه ډېرې شعرونه د نصيحت او پند نه ډک دي، او هغه غواړي چې پښتانه خپل غلط دودونه او بد عادتونه سم کړي[1].

ما هم يوه ورځ د امير حمزه خان شينواري بابا کليات لوستل نو په کښې د دوه سهرو د تورسم خان ذکر راغلو چې په يوه قطعه کښې حمزه بابا څۀ دا رنګه وئيلي دي :

چرته د پښتو ژبې شفيق لکه تورسم يمه
چــرته د پښتو ادب خليق لکه قُلزم يمه

کليات نمبر ۴

حمزه بابا په کلياتو کښې د ډېرو شعراؤ تعارفي اشعار وئيلي دي لکه :

چـــې حمـــزه ئـــې لـــه ګوښـــه رابهـــر کـــړو
د دلســـــوز د تقاضـــــو ويــــــره پکــــار ده

داد محمد دلسوز

يا

پښتو پښتو به وايو که څوک اولي مو په ګټو
خادمه دا مو هم زده کړے تانه يو هنر دے

محمد اکبر خادم

يا

## په پښتو کښې لېوني فلسفي هم شته

غني خان

دغسې نور ، نو ما چې کله د تورسم خان ذکر اولیدو نو سوچ کښې لاړم چې دا به ډېر دکمال شاعر وي چې حمزه بابا ئې په خپل قطعه کښې تعارف کړے دے او بیا د چارسدې دوه سرو کلي وي و مونږ ته ئې پته هم نۀ وي نو ډېره عجیبه خبره به وي.

زۀ دغه فکر واخستم او د خپل کلي درګئ منګا نه مې یو زړۀ پورې خوږ ملګرے رشید خان همدرد ته د پېښور نه کال اوکړو چې همدرد صېب په دوه سهرو کښې تورسم خان پېدا کوه چې هر څوک دے خو حمزه بابا ئې ډېر په ښو الفاظو ذکر کړے دے. څو ورځو پس همدرد صېب ټيليفون اوکړو چې د تورسم خان کور او خاندان مې پېدا کړو.

چې کله رشید خان همدرد د تورسم بابا د چم ګاونډ او خاندان نه زۀ خبر کړم بس د پېښور نه روان شوم او نېغ د رشید خان سره د تورسم خان کلي ته د هغه نوسي جمشید خان سره د مازدیګر په وخت ملاقات اوشو. جمشید خان د تورسم بابا نوسے وۀ. زمونږ ئې ډېر خاطر او مېلمستیا اوکړه. بیا په دغه ملاقات د تورسم بابا د ژوند په مختلف اړخونو تفیصلاً ذکر اوشو خو قبر ئې بیا هم جمشید خان ته نۀ وۀ معلوم البته مقبره ئې معلومه وه. په دغه ګپ شپ کښې د جمشید خان په کورنئ کښې یو ماشوم راغلو او ما ته ئې د تورسم بابا یو څو شعرونه په یاد اووئیل نو ما ترې تپوس اوکړو چې بچے دا شعرونه تا د چا نه زده کړي دي نو هغه راته په څواب کښې اووئیل چې دا مونږ کره زوړ کتاب دے ما د هغې نه زده کړي دي. بس بیا څۀ وو ما ورته وئیل دوۀ کړه او هغه کتاب راوړه.

ماشوم په منډه لاړو او دغه زوړ کتاب ئې راوړو چې کله مې اولوستو نو هغه د تورسم خان قلمي نسخه وه هم ډېره ضعیفه وه. ما جمشید خان ته درخواست اوکړو چې زۀ به دا ځان سره کړم او څۀ لږ ډېر کار به پرې اوکړم. نو جمشید خان خوشحاله شو او دغه نسخه ئې ماته اماتناً حواله کړه. ما دغه نسخه ترتیب کړه او لوستل مې شروع کړل دغې نه پس لږه موده شوې وه چې زۀ د خپل ترور کره مني خېله نومې کلي ته لاړم. زما د ترور سخر میرا

خان بابا نومېږي چې اوس اوس وفات دے چې عمر ئې تقريباً د شپږ شلو کالو نه اوړېدلے وو ـ ورسره د مازديگر په وخت د پتهي په پوله ناست ووم نو په څۀ خبرې پسې ئې څۀ سوخته اشعار اووئيل نو ما ترې سمدستي تپوس اوکړو چې بابا دا شعرونه دې خپل دي نو ميرا خان بابا راته زر اووئيل چې نه دا زما نۀ دي دا د تورسم لالا دي ـ بس بيا څۀ وو چې د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائيدم ـ ميرا خان بابا ته مې اووئيل چې بابا تۀ تورسم بابا پېژنې نو هغه داسې په عجيبه انداز کښې اووئيل وئ هغه به لاڅوک نۀ پېژني ـ هغه خو ډېر مشهور شاعر وۀ او په جلسو کښې به ئې چاربېتې وئيلې ـ دغې نه پس ميرا خان بابا راته اووئيل د تورسم خان نيکۀ مجسټرېټ وۀ د خپل وخت ښۀ چلته پورته انسان وۀ او دغه نورې ډېرې خبرې اترې د تورسم بابا په ژوند اوشوې ـ بيا ترې ما يو بل تپوس اوکړو وچې بابا تورسم خان کله پېدا شوے وۀ نو هغه راته په ځواب کښې اووئيل ـ د حيدر لالا نه پينځه شپږ کاله مشر وۀ ـ حېدر خان بابا يو خدائي خدمتگار او د باچا خان د جيلب يو تکړه ملگرے وۀ ـ زما د پلار نيکۀ وۀ او د مشرانو د وېنا مطابق هغه په کال ۱۸۹۱ء کښې په درگۍ منگاه کښې زېږېدلے وۀ ـ د کور کلي يو تکړه مشر وۀ او د ميرا خان بابا سخر هم وۀ يعني د مني خبله په دغه ميرا خان بابا ئې لور وادۀ وه چې اوس اوس مړه ده ـ

نو ددغې خبرې نه پس ما دا قياس اولگوۀ چې حيدر خان بابا په کال ۱۸۹۱ء کښې پېدا دے نو تورسم خان په کال ۱۸۸۵ء کښې پېدا وي ـ ځکه چې مشرانو به پخوا هم دغسې حساب کتاب کولو ـ بيا مې د ميرا خان بابا نه د تورسم خان د مړينې تپوس اوکړو چې بابا تورسم بابا کله مړ دے نو جواب ئې راکړو چې هغه بله ورځ يعني هغه شپېتۀ اويا کاله هغه ته بل ورځ ښکارېدل ـ ما ورته په حېرانتيا اووئيل چې بابا څۀ مطلب ـ هغه بله ورځ نو ميرا خان بابا ځواب راکړو چې د هندوانو د تگ نه دوه درې کاله مخکښې يعني ۱۹۴۵ء کښې ـ نو ددغې مرکې نه پس ما د تورسم بابا د پېدائش او مړينې نېټه اوليکله ـ

**ژوند فن او شخصیت :**

ما چې کله د تورسم خان دغه قلمي نسخه اولوستله نو ډېر حېرانه شوم چې زمونږ په علاقه کښې هم دغسې شعراء پاتې شوي دي چې د خپل وخت ښۀ پوره استاذان او اتلان وو ـ تورسم خان یواځې شعرونه نۀ دي لیکلي هغه د شاعرۍ په هر صنف کار کړے دے ـ غزل ، چاربېته ، لوبه ، ټپه او دغه رنګ په هر صنف ئې پوره پوره طبع ازمائي کړې ده ـ تقریباً پوره شپږ اووۀ قلمي نسخې ئې موجودې دي ـ څۀ په پښتو اکېډیمي کښې یوه په نوښار کښې او یه ما سره بقلم خود ده ـ ما سره چې د تورسم خان کومه نسخه ده نو په هغې کښې د چاربېتې ، غزل او مصرعې نه علاوه د اردو او فارسي غزلې هم موجود دي او ډېره شاعري ئې د موسیقۍ په اسلوب ښائسته کړې هم ده ـ ددې نه د تورسم خان د فن او علم اندازه کېږي چې څومره د خپل وخت یو پوهه ، هنرمند او ګڼ اړخیز شخصیت وۀ که هر څومره ئې ژوند په سختو کښې تېر شوے دے خو بیا ئې هم د قلم نه کار اخستے دے او خپله هر څۀ ئې پوره کړي دي ـ

د قلمي نسخې د چاربېتو نه ئې د ژوند د معاش، هجرت ، تعلقات او واقعات څرګندېږي ـ په یوه چاربېته کښې د خپل کلي نه د روزګار په تلاش کښې د هجرت ذکر څۀ دغه رنګ کوي ـ

راغله په دوۀ سرو قحط سالي خطا شو وار زما
اوګوره روزګار زما
اووئیل شمس الدین چې روره څه چې لوګري اوکړو
لري په مېړو اوکړو
زمکې د شبرګړه ده په کښې دواړه دیرې اوکړو
دلته څۀ اسرې اوکړو
لاړلو شبر ګړه له مونږ په حکم د سبحان سره
وایم په ایمان سره

چـــا راتـــه پټـــي نـــه راکولـــو د تـــاوان ســـره
دواړه شـو حېـران سـره

(دغسې نور)

یو بل ځاے کښې په یوه بله چاربېته کښې د سوات د خان ظریف خان سلطان چکدرې د ذکر نه ئې رامغلومېږي چې تورسم خان د چکدرې دغې خان ظریف خان سره هم ښـۀ تعلق پاتې دے. په چاربېته کښې ئې ذکر څۀ دا رنګه کوي.

د ســـوات خـــان ظریـــف خـــان
پـــه خـــوئي بانـــدې ســـلطان
حـــــاکم د چکـــــــــدرې وۀ
د نیســـتی نـــه در پـــه در شـــو
د وطنـــــه مســـــافر شـــــو

په نسخه کښې ۱۹۱۴ء ، ۱۹۱۵ء او ۱۹۰۷ء تاریخونه لیکلي دي.

تورسم خان که هر څومره د خپل روزګار په تلاش کښې وۀ خو ددغه سره سره ئې د علم او ادب لمنه نۀ ده پرېښې او ښۀ پوره پوره هڅه ئې کړې ده .د علومو خبر وۀ هر څو که سکول یا مکتب ته نۀ وۀ تلے او په خپـل کـور کلي کښې ئې دغه زده کړه کړې وه ځکه خو ئې د پښتو د اصنافو نه علاوه د اردو او فارسي ژبې باندې هم ښۀ کار کړے دے چې د هغې مثال ئې په دې قلمي نسخه کښې خوندي پاتې دے. د خپل وخت همعصرو شعراء سره ئې ښۀ تعلق او راشه درشه وه ځکه ئې هر چا په خپلو تذکرو او حوالو کښې ذکر کړے دے. دغه ذکر شوي کتابونو نه حوالې دلته ضروري ګڼم لکه:

د تورسم بابا د ژوند په حقله محمد اشرف غمګین ''د هشنغر ادب'' کښې لیکي چې:

''تورسم خـان د دوه سـرو اوسـېدونکے او هـم دوه سـرو کښـې دفـن دے .تورسـم خـان د ۱۹۳۰ء ډېر لوے قومي شاعر وۀ ، په وطن مئین او د باچا خان کلک ملګرے وۀ. د ډېر کوشش باوجود ئې ماته لږ څۀ په ګوتو راغلۀ خو وائي چې د دوي ډېره لویه پنګه د دوي زوي پښتو اکېډیمۍ ته ورکړې ده .په پښتو قومي مجلو او اخبارونو کښې که څۀ موجود

وي نو هم وي به ، ډېر لوے سرخپوش یادېږي. د مرګ او وفات (پېدائش او وفات. راقم) پوره تاریخ ئې هم معلوم نۀ شو. یو څو شعرونه ئې د غازي امان الله خان کابل متعلق چې ئې وئیلي دي هغه دادي :

غازي امان د ملکه ځینه　　د ثریا په مخ راځي اوښکې رودونه　　غازي امان
غازي امان ځي روانېږي　　وطن پرېږدي نۀ پاتې کېږي[۲]

څۀ اولاد ئې ژوندے هم شته. د دوه سرو نه بهر د څو تس نس کانو او خاورو د یو ډېري لاندې دغه لوے پښتون او شاعر خاموش د پښتون قام تماشه کوي.''
او دې پسې ئې د تورسم کاکا یو چاربېته رانقل کړې ده چې د سر بېت ئې دادے :

حق حېران سرنګون ، یم په غم مبتلا
اورم بانګ جرس ، کله دا کله دا
د پښتون دې ژوندون، کړمه سر په صحرا
اورم بانګ جرس ، کله دا کله دا

(تر اخره پورې)

محمد اشرف غمګین د تورسم خان د پېدائش او وفات کلونه نۀ دي پېدا کړي او نۀ ئې د هغوي د اولاد متعلق او نۀ د هغوي په نور ژوندبانديٖ څۀ وئیلي دي.

**زېرون :-**

پروفېسر محمد افضل رضاخېل تالیف ''پټ ستوري'' کښې د تورسم خان پېژندګلو او دپښتو اکېډیمۍ په لائبرېرۍ کښې ددۀ د اثارو تذکره په دیو ټکو کښې کړې ده.
'' تورسم خان په تورسم بابا مشهور دے. د چارسدې تحصیل د دوه سرو کلي اوسېدونکے وۀ. د دیارلسمې صدۍ هجرۍ په وروستي دور کښې پېدا وۀ. په ۱۵ رمضان ۱۳۲۴هـ ئې پوخ عمر کښې حق رسېدلے وۀ. هم په دوه سرو کلي کښې ښخ دے. تورسم بابا د پښتو په هغه اولسي شاعرانو کښې ځان ته جوت مقام لري چا چې دخپلې شاعرۍ (په) ذریعه دخپلې پښتنې معاشرې اصلاح کړې ده او دغه معاشرې ته ئې خرابۍ په ګوته کړي دي. ګڼې چاربېتې ، غزلې ، بدلې او قامي نظمونه ئې لیکلي دي. د داستانونو قلمي مجموعه

ئې ''گنج یاقوت نایاب'' نومېږي چې ۱۹۳۲ءکښې ئې مکمل کړې ده او پښتو اکېډیمۍ پېښور یونیورسټۍ کښې په سلسله وار نمبر ق ۱۱۹موجوده ده. دا ټول ۳۵۲ مخونه لري خو ورسره ئې داهم لیکلي دي چې دا د هغهٔ د شعري مجموعې پنځم جلد دے. په یوه مجموعه کښې ئې د ظریف خان مابۍ او فتح خان رابیا منظوم داستانونه لیکلي دي چې ۳۰۲ مخونه لري. او په هر مخ ۲۴ شعرونه درج دي. د تورسم خان بابا نورې شعري مجموعه چې ۱۹۳۸ او ۱۹۴۲ او ۱۹۴۳ کښې ئې د قلمي دیوانونو په ډول مرتب کړي دي. هم په پښتو اکېډیمۍ کښې په سلسله وار نمبر ق ۱۲۰ موجودې دي. د ضخامت له مخه هم دا مجموعې د ستائنې وړ دي. د تورسم بابا شعرونه ډېر ساده خونده ور او اثرناک دي. اکثر کلام ئې د پند او نصیحت نه ډک دے او غواړي چې د پښتنو د غلطو رسمونو او خرابو عاداتو اصلاح اوشي[۳]. ''

پروفېسر افضل رضا د تورسم کاکا د پېدائش صحیح نېټه نهٔ ده ټاکلې او د وفات تاریخ او کال ئې ۱۵ رمضان ۱۳۲۴هـ ښئیلے دے. بله خبره داده چې کومې نسخې مونږ پورته تفصیلي طور ذکر کړي دي هغه ئې ببخي په لنډوټکو صرف د نمبرونو او سنونو تر حده د قلمي دیوانونو په نوم یاد کړي دي حالانکې د تورسم بابا په قلمي نسخو کښې یوه نسخه هم د دیوان په تعریف پوره نهٔ خېژي. د خپلو لیکلونه پس ئې د تورسم بابا اشعار او دنمونې په طور دوه چاربېتې یوه پوره او بله نیمګړې ده چې د فتح رابیا د قصې نه اخستے شوې ده. خو دا چاربېته پوره نولس بنده لري او دغه شان رضا صېب د تورسم بابا د ژوند حالات او شاعري خپل تالیف کښې د ۳۱۴ نه ۳۲۸ مخونو پورې راوړې ده.

همېش خلیل خپل تالیف '' د چاربېتي پخواني شاعران '' کښې د تورسم خان په حقله لیکي چې:

> ''تورسم د چارسدې ضلعې په ''دوه سرې'' نومې کلي کښې په کال ۱۸۲۵ء کښې پېدا او د فرورۍ په پینځلسمه ورځ ۱۹۴۵ء وفات شو او د خپل کلي په ادیره کښې خاورو ته اوسپارلے شو. شعري مجموعه ئې ''گنج یاقوت نایاب''

نومبرې ، چې لا چاپ شوې نهٔ ده[۴]۔"

او دې پسې ئې د تورسم کاکا یوه چاربېته رانقل کړې ده چې د مطلعې بېت ئې داد ے :

سرې شونډې دې ذهب پېزوان پرې ناست لکه لړم د ے
دوتـــا زلفـــې اژدر دې پـــه ســـينه وهـــې تالونـــه[۵]

یاده دې وي چې د همېش خلیل نه اول قاضي عبد الحلیم اثر افغاني سالارزي خپل تالیف "باغ و بهار" (د پښتو ځینې قلمي چاربېتې) کښې هم د تورسم کاکا دغه مذکوره چاربېته راخستې ده ۔ د اثر صاحب دغه اثر چې د هغهٔ د خپل لاس لیک د ے ، پښتو اکېډیمۍ پېښور یونیورسټۍ په کال ۲۰۰۲ء کښې چاپ کړے د ے خو اثر صاحب هم د تورسم خان څهٔ پېژندګلو نهٔ ده کړې او نهٔ ئې د پېدائش او وفات کلونه درج کړي دي[۶]۔

" د قلم خاوندان" د همېش خلیل بله تذکره ده چې د "تورسم خان د دوه سرو او شعري مجموعه ناچاپ" هومره تعارف په کښې شوے د ے ۔نهٔ ئې د پېدائش او وفات کلونه لیکلي دي او نهٔ ئې د تصنیفاتو نامې۔

تورسم خان په هم دغه خطي نسخه د څو ټپو او څو بېتونو مېنځ تر مېنځه ددغه شعري مجموعې نامه په اول مخ ( فهرست پسې ) لیکلي دي۔چې :

" کتاب تصنیف مشهور به اسم گنجِ یاقوت بتاریخ ۸ / ماه جون سنه ۱۹۳۸ء تورسم شاعر سَنَد یافته تمغه در سالانه جلسه قومی هُتمان زائی ( اُتمانزی)[۷]

د مشر عبدالخالق خلیق د لیکلو تر مخه دا د ۱۹۲۸ء د انجمن اصلاح الافاغنه د سالانه جلسې خبره ده چې ډرامه او مشاعره په کښې شوې وه ۔ د مشاعرې طرح دا وه : " که دې خیال د ازادۍ د خپل وطن وي" او خادم محمد اکبر په کښې اول انعام اخستے وۀ ، دویم په کښې تورسم کاکا او دریم انعام د شبرپاؤ فضل واحد ګټلے وۀ ۔ د خلیق صاحب شعرونه دادي :

**د اتمانزو کلیزه جلسه: -**

پـه دې کـال کښـې چـې موسـم وۀ د بهـار صـــدارت کښـې د حـــاجي عبـــدالغفار
اوتمـانزو کښـې جلسـه اوشـوه عـالي شـانه عـالمونـه وو راغلـــي لـــه هـــر خـــوا نـــه
د تېر کال په شان ډرامه هم په کښې اوشوه د پښـتـو مشـاعره هـم پـه کښـې اوشـوه
طـرح ئـې دا وه کـه د چـا يـاده تـر نـن وي ''که دې خيال د ازادۍ د خپل وطـن وي''
کـــوم يـــو نظـــم چـــې لـــه ټولـــو وۀ بهتـــر هغـه شـمېر شـو د خـادم محمـد اکبـرښ
دويــم نظــم د تورســم کاکــا حســاب شــو د شېرپاؤ فضل واحد دريم کاميـاب شو[8]

نو په دغه اساس که ۱۹۲۸ء د اتمانزو په سالانه جلسه د انجمن اصلاح الافاغنه کښې ئې په نظم اورولو دويم انعام ګټلے وۀ ، تورسم خان ځان ته ''سند يافته در سالانه جلسه قومي اتمانزۍ'' وائي او ځان د ''پنج تر پنجاه تېر'' يادوي نو بيا ئې د پېدائش کال ۱۸۷۲ء راووځي او که د ''ګنجِ ياقوت'' د ليکلو کال ۱۹۳۸ء نه خپل عمر د ''پنج تر پنجاه تېر'' يادوي نو بيا ئې د پېدائش کال ۱۸۸۲ء راووځي او هم په دغه بنياد د ښاغليو همېش خليل او محمد افتاب افتاب ښئيلي د پېدائش کلونه ۱۸۲۵ء او ۱۸۸۵ء بې سنده او بې دليله ثابتېږي. ولې دا هم کېدے شي چې د ۱۹۲۸ء او ۱۹۳۸ء مېنځ تر ميانځه ئې دغه بيت او ټپه ليکلې وي نو بيا به ئې د زېږون نېټه هم د ۱۸۷۲ء او ۱۸۸۲ء مېنځ تر ميانځه وي او هغه هر يو کال کېدے شي او په دغه حساب هم نۀ خو د همېش خليل ليکلے کال ۱۸۲۵ء صحيح کال دے[9].

**تعليم او کار روزګار: -**

د تورسم خان د کړوسي ښاغلي جمشيد خان خټک د وينا تر مخه تورسم خان رسمي تعليم نۀ وۀ کړے خو په جماعت يا مدرسه کښې ئې ضرور ليک لوست زده کړے وۀ او دومره ځۀ ورتلل چې ليکل او لوستل ئې پرې کولے شو. د هغوي په ليکلو د اکېډيمۍ لائبرېرۍ کښې او د مانکي شريف په کتب خانه کښې ټولې قلمي نسخې ګواه دي چې تورسم کاکا په خپل قلم په خپل لاس ليکلې دي او په شاعرۍ کښې ئې د فارسۍ، عربۍ او اردو د ټکيو (تورو) سره د انګرېزۍ ځينې ټکي استعمال ئې په علميت ګواهي ورکوي.

د تورسم خان د ژوند او کار روزګار په حقله د هغهٔ د ټبر د یو غړي جمشېد خان خټک د وینا مطابق : د تورسم کاکا روزګار زمیداري کول وو او د پلار نه ورته دولس جریبه زمکه پاتې وه چې د خپلې علاقې ضلع نوښار د خټک نامې د خېسري کلي نه چې د مانکي شریف نه مخ په قبله بره د چراټ په غرونو کښې اباد کلے دے ، ئې دوه سهرو ته هجرت کړے وهٔ خو عجیبه خبره دا ده چې تورسم خان خپله شاعرۍ کښې چرته هم ځان ته خټک نهٔ دي وئیلي او نهٔ ئې چرې "خټک" تورے د تخلص په ځاے پکارولے دے.چې ډېره د حېرانتیاخبره ده او دلته ئې د درېو ضلعوپه سنګم (په دوه سهرو کښې چې چارسده، مردان او نوښار درې ضلعې پرې یو ځاے کېږي) مستقل سکونت اختیار کړے وهٔ.
د تورسم خان د پلار نامه ریدي ګل وه او د نیکهٔ د نامې نه ئې ښاغلے جمشید خان خټک هم نهٔ دے خبر خو دومره وائي چې دوه سهرو کښې ئې د ډیوډي والو محله کښې کور اباد کړے وهٔ.وروستو تورسم خان ځان له خپلو زمکو کښې چې د دوه سهرو په اډه کښې چې د درګيئ منګا مردان نه چارسده روډ ته کوم سړک تللے دے هلته ئې ځان له خپل کور د حضرت عثمان رض جماعت سره ودان کړے وهٔ او دا زمان جمشید خان دوي ته پاتې دے. دا ښاغلے دا هم وائي چې ریدي ګل کاکا دوه ودونه کړي وو چې د مشر ټبر نه ئې یو زوے تورسم خان او د بل ټبر نه شپږ زامن زېږېدلي وو.
تورسم خان د خپلو ورونو سره شبر ګړهـ ته تللے او دېره شوے وهٔ چې هلته ئې هم ډېره زمکه اخستې وه خو د تورسم خان د میرنه ورور حمید خان (حمیدو) په شبرګړهـ کښې ځهٔ بدي پېدا شوه او ددغې بدۍ او دشمنۍ له کبله ترې هغه ټوله زمکه پاتې شوه او تورسم خان دوه لاسه دوه پښې د ورونو په تنګ ببرته دوه سرو ته راغلو.بیا ترې ځهٔ موده تورسم خان ببل د مانکي شریف د پیرانو په سېرۍ د خوېشکو په مېره اباد باباجي کلي کښې دېره شوے وهٔ او دلته به ئې په زمیدارۍ قوت لایموت ګوزاره کوله ځکه چې تورسم خان پلار په نیکهٔ د مانکي شریف مریدان او شبخان را روان وو.ددې په ثبوت کښې د تورسم خان ددې نظم اول او اخر بندونه وړاندې کوم چې د هغوي په قلمي نسخه نمبر ۱۱۲ کښې درج دے :

اول بند:

پیرانو پیر دے ، پیر دستګیر دے غوث الزمان دے ،صاحب د مانکي
ظاهر فقیر دے ، باطن امیر دے ماه تابان دے ، صاحب د مانکي

اخر بند:

تورسم غلام ، د دوي د در دے شکر چې امت ، د پاک سرور دے
ډېر ګناهګار یم ، وړاندې خطر دے ډېر قدردان دے ،صاحب د مانکي

(۱۲۱- ۱۲۲ مخونه)

ولې اخر هم تورسم خان ېرته دوه سرو ته راغلو او دلته ئې څۀ زمیداري خپله کوله او څۀ زمکه ئې چې په جامړه کښې وه هغه ئې د ورور خوشدل په ذریعه د هغۀ زامنو له په اجاره ورکړې وه ـ هغه په خپله یوه قلمي نسخه نمبر ۱۱۵ کښې د زمکې د اجارې په بابت کښې دا یاد داشت لیکلے دے :

"زمکه یولس جریبه د جامړې فی جریب پانچ روپیه سالانه په میعاد د پینځو کالو ما د خوشدل په ذریعه په نابالغو زامنو د خوشدل اجاره کړله او روپۍ د پینځو کالو ما پېشګي واخسته ـ پس د پینځو کالو پېشګي روپیه د خوشدل د زامنو سوخته شولې یعني فایده د اجارې واخسته او زما زمکه ددۀ نه خلاصه شوه ـ تورسم بقلم خود"

ددغه رسید او سند عبارت چې تورسم خان په خپل لاس او په خپل قلم لیکلے دے د اکېډیمۍ د لائبرېرۍ په قلمي نسخه نمبر ۱۱۵ لیکلے شوے دے او ددغه خطي نسخې په اخري مخ ۱۷۴ اخر ته په سور قلم (خط) "تورسم شاعر د دوه سرو په خپل قلم" لیکلي شوي دي او په اولني مخ ئې " په باب د بې وفا جانان وطنه + د کوهستان وطنه " لیکل شوي دي او ۲۵ اګست ۱۹۴۲ء تاریخ پرې درج دے او د پنسل په خط پرې دا عبارت هم لیکلے شوے دے چې :

"از طرف امیر بېګم خاص بمقام ارباب لنډۍ تحصیل پشاور بدستِ اکبر خان برادر عثمان کوملے"

او له دغه عبارته دا خبره بعید از قیاس نۀ ده چې خپله دغه نسخه تورسم خان په خپل لاس امیر بېګم ( چې ځوک لیکلې لوستلې او ادب ذوقه ښځه معلومېږي ) ته استولي وي یا

ورکړي وي او بيا هغې له خپله اړخه د اکبر خان په لاس خپل ورور عثمان ته لېږلې وي اوس دا خبره تحقيق طلب ده چې امير بېگم څوک وه او اکبر خان او عثمان څوک وو؟ ولې تورسم خان چې خپل کلام کښې د پښتونخوا د ځينو کليو ذکر کړے دے او په هغې کښې ئې خپل ياران دوستان ، ملکان ، خانان او مخوريز خلق ياد کړي دي له هغې دا هم څرګندېږي چې تورسم خان د خپل ادبي فعاليت سره سماجي رشتې هم پاللې دي او د يارانو دوستانو حلقه ئې ښۀ فراخه وه (ځکه چې د هغوي او ښۀ او بد ئې دواړه خپل کلام کښې په ګوته کړي دي) او هر چا له په غم ښادۍ تلے راغلے دے.

هم دغه رنګ چې تورسم خان خپل يو طويل رباعي نما نظم (اګر چې ځينې ځايونو کښې ترې په وزن او بحر کښې کمے بيشے راغلے دے) کښې د پښتونخوا بلکې د پنجاب او کشمير د ډېرو کليو د ښځو کوم قسمونه او کارونه ، ښائستونه او بدرنګۍ بد صورتۍ بد سيرتۍ يا خوبۍ او خامۍ بيان کړي دي نو له دې ځنې دا هم څرګندېږي چې زمونږ شاعر ډېر لوے فنکار وۀ او داسې بريښي چې د اشنغر د دوه سرو نه تر کشميره او هندوستان ته هم تلے راغلے دے او د ښې ډېرې فطري مشاهدې او تجربې نه پس ئې لکه د ستر خوشحال خان خټک خپل فکر کاغذ ته منتقل کړے دے چې د جهان ديده شخصيت څرک او درک ترې واضح ليدے شي.

مونږ که د تورسم خان د شاعرۍ شُغل ته اوګورو او بيا په شعوري طور د خپلې مورنۍ ژبې ، پښتون اولس او خپل پښتون وطن سره مينې ته او بيا د هغۀ د ذهن وسعت او ليک شان ته ئې اوګورو نو حېران به شو چې د جمشېد خان په وېنا په قد لوړ دنګ ، غنم رنګي ، نري نروچکي تورسم خان به نۀ يوائې خپلې زمکې سمبالولې بلکې په حجره کښې به ناست وۀ د خپلو ماتو عېنکو (چشمو) چې يو ډانډے ئې وۀ او د بل ډانډې په ځاے ئې ورته تار اچولے وۀ ، قلم دوات او کتاب به ورسره هم وۀ چې په څۀ نا څۀ ليکلو لوستلو کښې به مصروف او مشغول وۀ او دا حقيقت هم دے چې مونږ د پښتو اکېډيمۍ په کتابتون کښې د هغوي قلمي نسخو ته ګورو نو حېرانېږو چې د ۱۸۷۲ء يا ۱۸۸۲ء مېنځومیانه کښې زېږېدلے يو بې تعليمه سړے ، جټ زميدار څومره پرېوانه او د کمال شاعري کوي او څومره فني باريکۍ لري چې د خاميو نه ئې خوبۍ زياتې دي او چې د خپلې ټولنې او د چاپېرچل نه باخبره انسان دے چې نۀ يوائې ئې ادبي حېثيت مسلم دے بلکې په سياسي

لحاظ هم د خپل مشر رهنما عبدالغفار خان باچا خان فخر افغان په مشرۍ کښې ئې په هغۀ پسې نیت تړلے دے او د پښتنو په کلیو کوڅو کښې د خدائي خدمتګارۍ تحریک کښې د نورو خدائي خدمتګارو سره اوږه په اوږه روان لیدے شي او قامي ، اصلاحي او فلاحي کارونو کښې سرګرم عمل دے ـ د پښتنو خېر خواه دے ، د دوي دبدو او غلطو رسمونو رواجونو خلاف دے ـ د دوي د ښې ورځې ارزومند دے، د غېرو غمازانو انګرېز سامراج او استعمار نه د وطن د ازادۍ سره سره د پښتنو په تعلیم یافته کېدو زور راوړي او دا رنګ خپلو اصلاحي او فلاحي کارونو ته دوام ورکوي او د اولسي خېر ښېګړې په کارونو کښې ډېر تُند او تاند چټک ګامونه پورته کوي ، نو بل لوري ته د خوشحال خان خټک ، عبدالرحمان بابا ، د زیارت کاکاصاحب په مزارونو او عرسونو کښې په طرحي مصرعو کلامونه هم وائي او د ''انجمن اصلاح الافاغنه'' او ''خدائي خدمتګار تحریک'' کښې د سالانه جلسو په موقع قامي او وطني شاعري کوي او داسې خپلو ادبي فعالیتونو ته دوام ورکوي ـ نو داسې شاعر که د حالاتو په ګردونو کښې وقتي طور څۀ هم پټ پاتې شي خو وخت او حالات چې سازګار شي او د قدرت منشاء په دې کښې وي چې دغه په المارو او تاخونو کښې پراتۀ مواد دې هم د تیارې نه د رڼا ورځې د نمر مخ ووینې نو بیائې څوک هم نۀ شي پټولے او الحمد لله چې دا شاعري پښتون اولس ته د هغوي د قومي امانت په طور وړاندې کېږي او په دې اساس ورسپارلے کېږي چې دوي په خپل حال کښې د خپل ماضي نه خبر شي او د مستقبل دپاره ترې رڼا واخلي او د شعور په پلوشو ئې زړونه او ذهنونه روښانه شي ـ له خپله ځانه او له خپل کلي کوره شروع اوکړي او په چم محلت ، کلي او ښارونو خوارۀ شي او د خپلې ټولنې په صحیح معانیو کښې قومي خدمت ته په نېکه جذبه او کوټلې اراده راووځي او په ډاګه مېدان دې د زور ، ظلم ، جهالت او تېرې مخ نیوي دپاره وینښ او بېدار ودرېږي ـ دې لړ کښې د تورسم خان هاغه ټوله قومي او وطني شاعري د لوستو سره تعلق لري چې د هغۀ په دې مجموعه ''ګنجِ یاقوت'' کښې ځاے په ځاے خوره وره لیدے شي او لوستونکیو ته په کښې د خپل زړۀ درزا څرګنده اورېدے او محسوسېدے شي ـ دغه رنګ د عبدالغفار خان فخرِ افغان په نامه لیکلي اشعار چې د هغوي په رهایۍ او د مشرۍ په راهنمایانه کردار ئې لیکلي دي د ستائنې وړ دي ـ

تورسم خان نۀ یوائې په خپله ټولنه او چاپېرچل نظر لرلو او په ملکي سیاست ئې ژور نظر

وۀ بلکې د خپل چم ګاونډ بېن الافغاني او بېن الاقوامي حالاتو نه هم باخبره وۀ ـ دې لړ کښې د افغانستان د غازي امان الله خان د تخت نه کوزېدل او د بچه سقه (ماشکي) د کابل تخت نيول ئې هم په نظر کښې دي او په خپلو شعرونو او چاربېتو کښې ئې تذکره کوي ـ د غازي امان الله خان د کابل نه تللو باندې خفه او دلګير دے او د بچه سقه (حبيب الله) په تخت د ناستې خلاف دے ـ

"شاه امان الله خان چې د تخت نه لاس واخستو نو سلطنت ئې شهزاده عنايت الله ته وسپارلو او دے قندهار ته لاړو ، دوه درې ورځې پس عنايت الله خان بادشاهي پرېښوه د پېښور په لاره ايران ته لاړو او شاه امان الله خان د قندهار نه بمبئ ته او د هغه ځائے نه يورپ ته لاړو ـ خان عبدالغفار خان په بمبئ کښې ورسره ملاقات کړے وۀ"

"افسوس چې غازي امان الله خان هم دغسې د جلاوطنۍ په حېثيت په ۲۵ اپرېل ۱۹۶۰ء په اټلي کښې وفات شو ـ درې ورځې پس ئې لاش افغانستان ته راوړے شو او په جلال آباد کښې دخپل پلار امير شهيد په خوا کښې خاورو ته اوسپارلے شو"

## وفات او مزار :-

البته د وفات کال او تاريخ ئې همېش خليل صحيح ليکلے دے چې ۱۵ فروري ۱۹۴۵ء کښې په حق رسېدلے دے او د دوه سرو مقبره کښې خاورو ته سپارلے شوے دے ـ په اکېډيمۍ کښې د تورسم خان په قلمي نسخه نمبر ۱۲۰ چې "ګنجِ ياقوت نا ياب" نومېږي -همېش خليل صاحب هم د شعري مجموعې نامه "ګنجِ ياقوت ناياب" ليکلې ده نو په دغه نسخه کښې مېنځ کښې په مخ ۳۰۲ چا په اودې سياهۍ غټو ټکيو کښې د وفات وجه او نېټه په اردو کښې داسې ليکلې ده چې:

*"بروز جمعرات بتاریخ ۴۵ / ۲ / ۱۵ تورسم خان شاعر نے اس جہان سے رحلت کی۔ بیماری کی تاریخ ۱۵ رمضان۔ تاریخ وفات ۴۵ / ۲ / ۱۵۔ ابتدائی بیماری میعادی تھی جب ایک مہینہ گذر گیا تو بیماری ختم ہوئی دوبارہ بیمار ہو کر ڈاکٹر نے کہا کہ یہ بیماری ضعف جگر ہے اور اس بیماری سے فوت ہو گیا۔"* [10]

د روژې نه يوه مياشت وړاندې ناروغه شو نو بيا ښۀ شو او چې بيا د روژې په مياشت

کښې ناروغه شو نو پته اولګېده چې میعادي تبه ئې ده چې د هغې له کبله ئې د ځیګر کمزوري پېدا شوې ده او هم ددغه ناروغۍ له کبله د روژې د میاشتې په پینځلسمه **۱۵** فروري **۱۹۴۵**ء کښې وفات شو - (په ګور ئې نور شه)

## د تورسم خان شاعري

پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین په پښتو جدید نظم کښې د تورسم بابا د ژوند ، مړینې او کار روزګا په حقله څۀ داسې رائے لري -

" د تورسم خان د زېږېدنې او مړینې نېټې معلومې نۀ دي خو ددې لوئے قامي شاعر د شاعرۍ مجموعه په پښتو اکېډیمۍ کښې موجوده ده - د پښتو د جدید نظم د شاعرانو په قطار کښې د خپل کلام د هئیت او مضمون له لحاظه تور سم خان کاکا ځاے مومي - هر څو که پښتانۀ تذکره نګار تر نابلد دي او د شاعرانو په تذکره کښې ئې ذکر ډېر کم موندلے شي -

تورسم خان که هر څو د پښتو د جدید ادب تذکره نګارو نه دے ستائیلے خو د هغۀ په نظم کښې تجربې د داسې اهمیت دي چې نظر انداز کول به ئې د ادب خیانت په زمره کښې راځي - د جدید نظم د نوي اسلوب خاوند داسې شاعر دے چې نظم د پښتو په ملي اوزانو جوړ د خوند او ترنم ځان ته رنګ لري - د غازي امان الله خان هجرت چې د ټول پښتون قام دپاره یوه المیه وه تورسم خان په ډېر ښکلي نظم کښې دغه المیه بیان کړې ده -

غــازي امــان د ملکــه ځینــه
د هر چا په مخ راځي اوښکې رودونه
غـــــازي امـــــان الله
غـــازي امـــان الله ځـــي روانېـــږي
وطـــن پربـــږدي نـــۀ پـــاتې کېـــږي [۱۱]

ددې نظم انداز بیخي د اولسي سندرې انداز دے خو واقعیت او د مضمون جدت ئې د نظم تجربه وړاندې کوي - خو د تورسم خان شاهکار نظم هم دے چې په کښې د هئیت موسیقۍ او د ترنم دپاره داسې زمکه خوښه کړې شوې ده چې د پښتو د جدید نظم په تجربو کښې ځان ته منفرد تجربه ښکاري -

**نظم**

حق حېران يم سرنګون يم په غم
مبـــــــــتلا
اورم بانګ جرس ، کله دا ، کله دا
د پښتون د ژوند کړمه سر په صحرا
اورم بانګ جرس ، کله دا ، کله دا
پاتې نۀ شو د ورور مور او پلار
محبـــــــــت
شفقت څۀ الفت مروت اخوت
د قيامت علامت دے که دے څۀ
آفـــــــــت
شرافت شو لت پت نه حيا شته
غيـــــــــرت
ګرېوان شه د مظلوم په ژړا واوېلا
اورم بانګ جرس ، کله دا ، کله دا

د شلو پنځه ويشتو شعرونو دا اوږد نظم د تورسم خان هم قادرالکلامي ښائي او هم په شعر د هغه ګرفت ، ددې نظم په بنا تورسم خان د جديد نظم د شاعرانو په وړومبي تولي کښې ځاے مومي۔

دلته زۀ د تورسم خان يو څو مختلف غزلونه ستاسو وړاندې کوم چې په قلمي نسخه کښې ورته دوي پخپله د راګونو نومونه ليکلي دي او چې دا خبره ډېره د حېرانتيا ده چې ما کله پخپله د موسيقۍ استاذانو سره په دې خبره اوکړه نو هغوي راته اووئيل چې بالکل دا غزلې د راګونو په تول پوره دي۔

**راګ بهروي غزل**

دم قلم په هر قدم د نګار بې ديدار
سرنګون کړم بېلتون د ژوندون نه بېزار

پروت رنځور په ضرور دا مې حال شه دلبر
زړۀ مې خور شو چور چور کړه نما سپین
بشـــــــــــــــــــــــــــــــر
ما معمور کړه مهجور بې صبور کر و کر
کړم پرون په زړۀ خون د ژوند نه بېزار

## راګ پهاړي غزل

واخله دا مې مال و ملک دې نور مفلس د ماله یم
دا بتها قبول کړه زما څۀ په دا خوشحال یم
نن بازي ددۀ سر زما څۀ شهادت ګڼم
بویه ته رحم و کرم بیا راغلے تاله یم
یا الهی تابکې منصور هسې په دار یم
دار مبارکباد شه زما دربغه بې وصاله یم

## راګ ساوري غزل

نګاه دلداره یو واره په دار څۀ ، سنګسار څۀ ، بیمار پروت په دل
عقل شعور مې دواړه یک شان شولو سوخته په محبت

عبس په ضمیر یم کمند یم اسیر یم
اخته په ویر یم ملامت ژړېږم کړېږم
په دار څۀ ، سنګسار څۀ ، بیمار پروت په دل
دشتې غربت کښې مجنون شولو خوراک مې جګر خون
په هېڅ حالت کښې نۀ یم ارام کړمه تاراج ظالم بېلتون
جلیاشوم، سیاه شوم تباه شوم
په دار څۀ ، سنګسار څۀ ، بیمار پروت په دل
ګاهے رتې مې سنګدله تۀ ګاهے شړې مې دلربا

نــه یــم ګـــاه چــې تقصـیر شــوے بــې زمـــا د بـــې یـــا خطـــا
بیـــــدل یـــــم ســـــائل ګائیــــــل یـــــم
پـــه دار څـــۀ ، سنګســـار څـــۀ ، بیمـــار پـــروت پـــه دل

## راګ پیلو غزل

راشـــــــه دلبـــــر واخلـــــــه خبـــــر
شــــــه اګــــــاه پـــــه حــــال زمــــا
هـــېڅ نشـــته مجـــال زمـــا پـــروت یـــم بـــې درمانـــه زۀ
نـــــن پـــــه پرســـــان د غریـــــــب
راشـــــه زمـــــا اے طبیــــب اے پـــــري وار
کـــــــــرم انتظـــــــــــــــار
تېـــــر شـــــو دغــــه کــــال زمــــا
پـــــروت یـــــم بـــــې درمانـــــه زۀ
کمنـــــد اســــــیر یـــــــم زۀ
اختــــه پـــــه ویــــــر یــــــم زۀ
ســـیر د ژونـــدون خـــورم جګـــر خـــون
مـــرم ســـامان اتـــل زمـــا پـــروت یـــم قېدخانـــه کښـــې زۀ
پـــــه زلفـــــو بنــــد د صــــیاد
لکـــــه کـــــوهکن یـــــم فرهـــــاد
سر په صحرا پاره پاره شو قاتل دلال زما پروت یم بې درمانه
زۀ
ســــورے ســــورے پـــــه جګــــر
راشـــــــه اے مـــــوے کمــــــر
چـــــاک پـــــه ســــینه مـــــاه جبینـــــه
واخلـــه ســـر و مـــال زمـــا پـــروت یـــم بـــې درمانـــه زۀ
تېـــــر شـــــو دا عمــــر بربـــــاد

تورسم برخویه باد
تیر طر چهل نه شو حاصل

ځان نهٔ شو سنبال زما
پروت یم بې درمانه زهٔ

## راګ سندړه غزل

این نه دے لایق د مسکن و امکان چند روز
پاتې د هر چا دے اخر دا جهان چند روز
چرته لاړ سائې ندیمان چرته رستم ابن زال
شور و شر ئې هسې کړو بریا پهلوانِ چند روز
صبح دم بلبل په ګل کړي دا صدائے جهان ګداز
در روئې ګلشن چند ساعت او دا ګلان چند روز
شې به عریا ئې تن تنها اسیر اے لحد
ن چې کړې ناز و ادا دا ګلو خانِ چند روز
دم غنیمت یو تر بل زاریږي اے اهلې جهان
صورت ئې خکې دے اخر مهمانِ چند روز
عشق احد اے ایوب شد اخر محمدي
خود درنه ویزار شو اخر همراهان چند روز

یو ځل که دلبر جان اوکړو پرسان په حال زما غریب
ګوګل مې بریان نشته خوبان مجال زما غریب
دا ځهٔ عمر ئې برباد لکه فرهاد شومه کوهکن ساکن
ازاد شو په لامیات شو بې پروا دلال زما غریب
په شان د مجنون کرمه ببلتون په مینه قید دے دا
پروت یم په کړیدون حال زبون ملال زما غریب

په دار د شش چهل کښې شوے داخل واوره تورسم ده
هېڅ نۀ دے کړو حاصل تېر شو ارماني سال زما غريب

## د تورسم خان چاربېته

چې ځنګه ځنګه مونږ د تورسم خان بابا په غزل کښې د موسيقۍ پېژندګلو د هغوي د ليک مطابق اوکړه نو دغه رنګ د تورسم بابا غزل يواځې د موسيقۍ په اهنګونو برابر نه بلکې چاربېته ئې هم په مختلف قسمونو ده ـ نو دغه رنګ د موسيقۍ د لے او تهال برابر هم ده ـ د چاربېتې نه ئې چې کومه موسيقي ځرګنده ده د هغې يو څو قسمونه لاندې ورکړے شوي دي ـ

## چاربېته راګ ذيله يا بهيم پلاسي تهاټهـ کافي :

د ســـــوات خـــــان ظريـــــف خـــــان
پــــه خـــوئي بانــــدې ســــلطان
حــــــاکم د چکــــــــــدرې وۀ
د نيســــتۍ نــــه در پــــه در شــــو
د وطنـــــه مســــــافر شـــــو
هــــــر چــــا کــــــړو ملامــــت
دۀ اوکـــــــــړو مصــــــلحت
قــدرے نــوم نــوکر د ظريـف خــان پــاتې د پــلار وۀ
پـــــه دۀ ئــــــې اعتبـــــار وۀ
قـــــدري تـــــه ظريــــف خـــــان
هـــــم دا اوکـــــړو بيـــــان
چې نور مې چکدره کښې کاکا نۀ کېږي ګذران
کــــــړم نيـــــت د هندوســــتان
اشـــــنا زمـــــا يـــــادېږي
پـــــه مـــــا کـــــه خفـــــه کېـــږي

اومــه پــه مــا کــویږدن ده د وادۀ نـۀ لــرم تــوان زۀ
لرمـــــــــــــــــه دا ارمـــــــــــــــــان زۀ
ال حـــــــــال چـــــــــې ســــــــــره دواړه
روان شـــــــــولو پـــــــــه غـــــــــاړه
قدرے ظریف خان شولو تیار پـه لـور د هندوستان
د ســــــــوات خـــــــان ظریـــــــف خـــــــان

لعـــــــــل بېـــــــــګ د ظریـــــــــف ورور وۀ
د دوي وه یـــــــــــــــوه خـــــــــــــــور
اومـه کـه هـر څـوک ژاړي قـدرے دۀ سره رهبر شـو
د وطنـــــــــــه مســـــــــــافر شـــــــــــو

**چاربېته راګ پهاړي تهاټهہ بلاول**

راغلــه پــه دوؤ ســرو قحــط ســالي خطــا شــو وار زمــا
اوګـــوره روزګـــار زمـــا
اووئيــل شــمس الــدین چــې روره څــه چــې لــوګري اوکــړو
لــري پــه مېــرو اوکــړو
زمکـــې د شبرګړهـــ ده پـــه کښـــې دواړه دیـــرې اوکـــړو
دلتــه څـۀ اسـرې اوکـړو
فصــل بــه مــو اوشــي بیــا د ستهویا بــه پیــرې اوکــړو
سېل بـه لاتېـرے اوکړو
نــه چلېــږي دلتــه پــه دوؤ ســرو کښــې هــېڅ چــل زمــا
اوګـــوره روزګـــار زمـــا

**د تورسم بابا د چاربېتي قسمونه :**

چاربېته چې څومره مشهور صنف دے نو دومره زمونږ پښتنو شعراء او خاص کر د کلاسیکل دور شعراء په چاربېته کښې هر قسمه طبع ازمائي کړې ده هم دغه رنګ

تورسم بابا د چاربېتې هم مختلف قسمونه دي چې يو څو قسمه ئې ذکر کول ضروري ګڼم۔

**چاربېته**

نقاش د چين ساز کړے عجيبه د جادو ښار دے
په رقص د راقص د محتسب ماته تقوی ده
هم ښکلې آئينه ده د هر مخ معائينه ده
ترخه د ګنډېري ده، ده خوږه په نادانانو
دا د ه صوفی خانه دا بت خانه ده افسانه ده
دا د ه پنډي خانه ازاده ده په مفلسانو
د پاره د قانع قناعت لويه خزانه ده
شطرنج ده، د سودا دے تجارت د تاجرانو
دا دے سوچه خريد داد تګی ګرم بازار دے
نقاش د چين ساز کړے عجيبه د حکومت ښار دے
نيا ده، وفا ده، هم جفا ده، دا اؤداده
په رقص در اقص د محتسب ماته تقوی ده
دا يو سر په صحرا دے د دينا په تمنا مري
دا ولې، دا په دا چې دا دنيا ده حيله سازه
دا بل په ډېر دولت کښې د دولت لوږې لامري
که هر څو ده دۀ د پاره دا عاشق نوازه
دا بل په شپه ژوندے وي لکه شمع هر سبا مري
دنيا فتنه انګېزه بلا خېزه ده غمازه
دا ناترېنه ځان انغاړي ورنه ستړے دل افګار دے
نقاش د چين ساز کړے عجيبه د حکمت ښار دے
د چا مشکل کشاده هم روا هم ناروا ده
په رقص د راقص د محتسب ماته تقوی ده

## چاربېته

نے مے ساقي مطرب چنګ و رباب ایر بهار دے
یو عشق کښې مبتلا بل په بلا کښې ګرفتار دے
عجبـــــه تماشـــــما ده
دا بـــــاغ دا کـــــربلا ده

حېـران یمـه پـه دا چـې آئینـه کـه ګنجیـه ده
کعبـه ده، بُـت خانـه ده، مے خانـه، جادوخانـه ده
دوسـتي کـه تجـارت دے
دوزخ دے هـم جنـت دے

تګـــــر د نمدپوشـــــو منقشـــــه پشـــــمینه ده
دا یار دے دا رېبار دے رقیب دغه اغیار دے
بـازار دے هـم ذلـت دے
چـــوړې ده هـــم زېبـــا ده

یـو وائـي چې دا څوك دے دوېم وائـي ملنګـان دي
بـل وائـي چـې نانـا دا تـول پـه شـمه پتنګـا دي
درېـم وائـي جنـون دے
فرهـاد دے دا مجنـون دے

بـر وائـي مفسـدان دي، لېـوني او شـرابیان دي
دا ښـار دا پېښـور، دا د رحمـان بابـا مـزار دے
داڅـه ښـکلے قـانون دے
طائفـــــه د شـــــعراء ده

دا یـو هجـران زده دے د وصـال پـه تمنـا مـري
دا بـل پـه وصـالت کښـې د هجـران دغمـه لا مـري
لـــېلا ئـــې حیلـــه ســـازه
داده عاشـــــق نـــــوازه

عاشق پائي په سوچ کله په شپه کله سبا مري
دا پروت په وصالت دا په هجران کښې ګرفتار دے
دنیـــــا ده دغـــــا بـــــازه
لـــــېلا ده هـــــم بـــــلا ده

## د تورسم خان فولکلوري شاعري

د پښتونخوا په هره سیمه کښې او په کلي کښې کوڅه په کوڅه او حجره په حجره چې کله هم څۀ قسمه غونډه جوړېږي یا وادۀ ښادي وي نو څۀ هلکان او مشران راغونډېږي او د

رباب منګي د مصرعو او ټپو ډک ساده باده محفل راجوړوي ـ په دغه محفل کښې چې کوم خلق موجود وي نو هغوي اولسي شاعرۍ کښې او موسيقۍ پوهه وي او ددغې اولسي موسيقۍ محفل نه خوندونه اخلي ـ نو ځکه زمونږ په اولس کښې د اولسي شاعرۍ رجحان ډېر زيات دے ـ خو دا سلسله اوسنۍ نۀ ده د زمانو راسې راروانه ده ـ هم دغه رنګ د اولسي شاعرۍ قسمونه ، شاعران او ويونکي هم د بلها ډېر دي او نامعلومه دي ـ په دې لړ کښې تورسم بابا هم خپلې هڅې کړي دي ـ مصرعه ، ټپه ، نيمکۍ ، بدله ، لوبه او دغه رنګ د پښتو د اولسي شاعرۍ په هر صنف ئې کار کړے دے ـ

د تورسم خان دا مصرعې د اولسي موسيقۍ په طرزونو او اهنګونو پوره دي ـ

کــــه د بـــــوډۍ شـــــــرارت نــــــۀ وے
فرهــــاد بــــه ولـــــې پــــه تبـــر لګېدنــــه

غمـــــازه خــــاورې دې پــــه ســــر شـــــه
چـــې دې فرهـــاد قاتـــل مقتـــول د خپـــل ســر کينــه

کـــــه فرهـــــاد روم تـــــه تلــــــے نــــــۀ وے
پــــه شــــېرينۍ بــــه ولـــــې دے مئيندنــــه

بــــــوډۍ د خـــــدا ے پــــه عـــــذاب واورې
د خـــوار فرهـــاد کـــور دې تـــالاد مينـــې کـــړو نـــه

دا ځــــــۀ دې اوکـــــړل فريـــــب ګـــــر ئــــــې
چـــې ارمـــاني فرهـــاد دې ګـــور تــه رخصـــت کـــړۀ نــه

انصـــــاف دې اونــــــۀ کـــــړو ســـــلطانه
فرهـــاد کـــوهکن ســـتا پـــه اقـــرار غـــر ســـينه وينـــه

فرهـــــاد د روم لـــــوے کـــــاريګر وۀ
پـــه شـــيرينۍ بانـــدې مئـــين وحشـــي شـــونه

اے بـــــوډۍ صـــــبر وظيفـــــه کــــړه
پـــه فرهـــاد مـــۀ ږده نيمـــه خـــوا د غـــم داغونـــه

لکـــــه تورســـــمه قلـــــم کېـــــږده
پـــــه غمازيـــــانو دې لعنـــــت د الله وينـــــه





# حوالې


1. محمد زبېر حسرت ، ډاکټر ، ګنج یاقوت ، پښتو اکېډیمي پېښور ، ۲۰۱۹
2. غمګین محمد اشرف ، د هشنغر ادب ، خوروونکي : هشنغر پښتو ادبي ټولنه چارسده ، اول چاپ ۱۹۸۰ء ، مخونه ۳۲۸ نه ۳۳۴
3. رضا ، پروفېسر محمدا فضل ، پټ ستوري (د پښتو سل زاړهٔ شاعران) ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، اول چاپ ۱۹۸۴ء ، مخ ۳۱۴ ، ۳۱۵
4. همېش خلیل ، ''د چاربېتې پخواني شاعران'' پښتو اکېډیمي ، پېښور یونیورسټي ، امین پرنټرز محله جنګي پېښور ښار ، ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۱۰
5. د چاربېتې پخواني شاعران ، مخ ۱۱۴
6. اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم ''باغ و بهار'' پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۲ء، مخونه ۲۴۳ - ۲۴۷
7. خلیق ، عبدالخالق ، '' زهٔ او زما زمانه'' ( منظوم خودنوشت ) ادارهٔ اشاعت سرحد ، پېښور، دریم ځل چاپ ، مارچ ۱۹۷۴ء، مخ ۴۲
8. عبدالخالق خلیق ، زهٔ او زما زمانه ، حاشیه نمبر ۱ ، ۴۸ مخ
9. هم دغه مآخذ ، حاشیه نمبر ۱ ، ۵۲ مخ
10. قلمی نسخه شمیره نمبر ۱۲۰ / ۳۰۶ مخ
11. پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښې ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۲ء ، مخونه ۱۹۲ تا ۱۰۸

References

1. Hasrat, Dr. Muhammad Zubair. *Ganj Yaqoot*. Peshawar: Pashto Academy, 2019.
2. Ghamgeen, Muhammad Ashraf. *Da Hashnagar Adab*. Publisher: Hashnagar Pashto Adabi Tolana, Charsadda. First Edition, 1980, pp. 328–334.
3. Raza, Prof. Muhammad Afzal. *Pat Stori (Da Pashto Sal Zarra Shaeran)*. Peshawar: Pashto Academy, University of Peshawar, First Edition, 1984, pp. 314–315.
4. Khalil, Hameesh. *Da Charbeta Pukhwani Shaeran*. Peshawar: Pashto Academy, University of Peshawar, Ameen Printers, Mohalla Jhangi, 2008, p. 110.
5. Ibid. *Da Charbeta Pukhwani Shaeran*, p. 114.
6. Afghani, Qazi Abdul Haleem. *Bagh-o-Bahar*. Peshawar: Pashto Academy, University of Peshawar, 2006, pp. 243–247.
7. Khaliq, Abdul Khaliq. *Za au Zma Zamana* (Manzoom Khudnawisht). Peshawar: Idara Ishaat Sarhad, Third Edition, March 1974, p. 46.
8. Ibid. *Za au Zma Zamana*, Hashia No. 1, p. 48.
9. Ibid. *Za au Zma Zamana*, Hashia No. 1, p. 52.
10. Manuscript, No. 120, p. 306.
11. Shaheen, Prof. Dr. Salma. *Jadeed Nazm pa Pashto ke*. Peshawar: Pashto Academy, University of Peshawar, 2012, pp. 108–196.